# دقانون دواکمنی شاخص
# اساسي او تکمیلی فاکتورونه

# RULE OF LAW INDEX
# FACTORS AND SUBFACTORS

# اساسي فاکتورونه



## د واک محدودیت

- دولتي واکونه په اساسي قانون کې تعریف شوي.
- دولتي واکونه په بنه توګه د قانون جوړونکې (قانونګذار) قوې له لوري محدودشوي.
- دولتي واکونه په موثر ډول د قضائیه قوي له لورِ محدود شوي.
- دولتي واکونه په موثر ډول د خپلواک کنترول او تفتیش له لارې محدود شوي.
- دولتي چارواکو ته د خلاف کارئ په وجه سزا ورکړل شوي (ورکول کیږي).
- دولتي واک د بې پرئ چک اوکنترول موضوع کیدای شي.
- دواک لیږد دقانون سره سم تر سره کیږي.

## د فساد نشتوالی

- دولتي چارواکي او اجرائیه قوه له خپلي څوکئ نه د شخصي ګټو لپاره کار نه اخلي
- دولتي چارواکي او قضائیه قوه له دولتي څوکئ نه د خپلو شخصي ګټو لپاره کار نه اخلي
- دولتي چارواکي ، پولیس اوپوځیان له دولتي څوکیو نه د خپلو شخصي ګټو لپاره کار نه اخلي
- دولتي چارواکي او مقننه قوه له دولتي موقف نه د خپلو ګټو لپاره کار نه اخلي.

## بنسټيز حقونه

- مساوي چلند او د توپير( تبعيض) نشتوالی
- دوکړو د ژوند او امنيت حق په موثر ډول خوندي شوی.
- په قضايي پروسيجر کې په مناسب ډول د تورن کس د حقونو رعايت.
- د فکر اوبيان د آزادئ اغيز من (موثر) خونديتوب.
- دعقيدی او مذهب دآزادئ موثرخونديتوب.
- په شخصي ژوند کې دنه لاس وهنې( مداخلې) موثرضمانت.
- د غونډو اوټولنو د جوړيدو د حق موثر ضمانت.
- دکار د اساسي حقونو ضمانت

## نظم او امنيت

- جنايت په موثرډول تر ولکې (کنترول) لاندې دی.
- مدني (ټولنيز) کړکيچ په موثر ډول محدود شوی.
- خلک د خپلو نا خوښيو په وجه اړ نه دي چې تاوتريخوالي ته لاس واچوي.

## د دولتي مقرراتو تطبيق

- دولتي مقررات په اعیزمنه ټوګه پلي کیږي
- دولتي مقررات له هر راز ناوړه اغیزې او نفوذ پرته تصویب او پلي کیږي.
- اداري بهیر(اداري چارې) له معقول ځند پرته، په بیړه تر سره کیږي.
- په اداري چارو کې، اداري پروسیجر (طرزالعمل) په ښه شان رعایت کیږي.
- دولت د خسارې له بشپړ جبران پرته، دملکیت له مصادرې نه ډه ډه کوي.

## مدني عدالت

- خلک کولای شي چې مدني عدالت ته لاس رسی ولري او له مدني عدالت څخه برخمن شي. مدني عدالت له تبعیض څخه پاک دی.
- مدني عدالت له فساد نه پاک دی.
- مدني عدالت د دولت له ناوړه اغیزې پاک اوخوندي دی.
- په مدني عدالت کې بې بنسټه ځنډ نه راځي.
- مدني عدالت په اغیزمنه ټوکه پلی کیږي.
- د شخړو د هواری لپاره یو بې غرضه او اغیزمن (موثر) میکانیزم ته د وګړولاس رسی شونی **دی.**

## جنايي عدالت

- دجنايي پلټونو سیستم اغیزمن دی.
- د جنايي قضاوت نظام پر خپل وخت او اغیزمن دی.
- د تادیب (سزا) نظام د جنايي کړنو په بدلون کې اغیزمن (موثر) دی.
- جنايي قضاوت بې پرې دی.
- د جنايي قضاوت نظام له فساد څخه پاک دی.
- د جنايي قضاوت نظام د دولت له ناوړه اغیزې نه خوندي دی.
- د جزايي اجراآتو قانون (Due process of law ) رعایت شوی او دتورن کس حقوق خوندي دي

## سنتي عدالت

- نارسمي (سنتي- دودیز) عدالت پر وخت اواغیزمن دی.
- نارسمي عدالت بې پرې او ددولت له ناوړې اغیزې خوندي دی.
- نا رسمی عدالت د وګړو اساسي حقونو ته درناوي لري اوساتنه يې کوي.

## پرانیستی دولت

- د قوانینو او د دولتي معلوماتو (احصایيې) خپرول.
- معلوماتو ته د لاس رسۍ حق.
- مدني برخه اخيستنه(مشارکت).
- دشکایت د میکانیزم شتون.

## پای

آرایش او ډیزاین (نقشه) : داکتر پامیر

د مالوماتوسر چینه: World Justice Project